**مطبوعاتي اعلامیه**

**یوازې اسلامي خلافت به د پاکستان اقتصاد د چټل ډالر له استعماري دام او سودي پورونو څخه خلاص کړي**

**(ژباړه)**



دې ته په پام سره چې د پاکستان مسلمانان د ۲۰۱۹م د جنورۍ په ۲۳مه خپل ځانونه د کوچنۍ بودیجې لپاره تیاروي، اوسنی اقتصادي نظام د هغه ورځ تر بلې خرابېدونکي اقتصادي حالت لامل دی، چې خلک ورسره مخ دي. په ښکاره توګه د اوسني نظام تر چتر لاندې د پاکستان پولي واحد د چټل ډالر په واسطه چې د غربي استعمارګرو لخوا د نړیوالې سوداګرۍ د اساس په توګه تپل شوی او هم د ډالر د بې رحمه ساتونکي، یعنې د پیسو د نړیوال صندوق په واسطه فلج شوی دی. د ډالر د واک د دوام لپاره استعمارګرو د مالیاتو د ډېروالي غوښتنه وکړه، ترڅو په دې سره پاکستان زیات ډالر واخیستلی شي. په همدې توګه روپۍ د ډالر پر وړاندې راټیټه شوه، څو ډالر په لوړ حالت پاتې شي؛ په داسې حال کې چې روپۍ له ناوړه حالت سره مخ ده، نو په دې وروستیو اونیو کې قیمتونه ډېر لوړ شوي دي. سودي پورونه بیا هغه لویې کندې دي چې د پاکستان د پام وړ پانګه پکې لوېدلې ده؛ د دې پانګې ګټه تر ډېره هغو سودي بانکونو ته رسېږي چې د وړو استعمارګرانو له لوري رامنځته شوي او په ټوله نړۍ کې ترې ګټه اخلي. د پاکستان د دولتي بانک په خبره، په ۲۰۱۸م مالي کال کې د هېواد د پورونو دوسیه دوه تریلیونه روپۍ ده، چې له یوه نیم تریلیون څخه زیاتې روپۍ پکې سیمه ییز او بهرني سودي پورونه دي.

د پاکستان اقتصادي ستونزې د اسلام له پوره پلي کېدو پرته هېڅ شی نشي حلولی؛ هغه ستونزې چې د اوسني نظام تر چتر لاندې په راتلونکو اونیو کې به ښایي نورې هم ډېرې شي. اسلام هغه پولي واحد نه مني چې حکم یې په چټل ډالر پورې تړلی او هغه سیاست ته په پوره قوت سره د پای ټکی ږدي، چې د ډالر ذخیرې ساتي او پر وړاندې یې سیمه ییزې پیسې راټیټوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه اسلامي دولت چې په مدینه کې یې تاسیس کړ، د پولي واحد په توګه طلا او نقره تبنې کړل. یوازې د نبوت په تګلاره خلافت دولت په پولي واحد کې ثبات او قوت رامنځته کړی، هغه داسې چې طلا او نقرې خپل ذاتي ارزښت په نړیوال تجارت کې منلی دی. د سودي پورونو تلې ته په پام سره الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا﴾ [بقره: ۲۷۵]

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی بیع روا او سود یې حرام ګرځولی دی.*

نو یوازې خلافت له هغو کسانو سره په مالي ملاتړ چې د زراعت، صنعت او له اړو خلکو سره د مرستې په برخه کې پانګونه کوي، د سودي پورونو د سوالګرۍ کاسه ماتولی شي.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** اوسنی رژیم هڅه کوي په خپلو کړنو سره تاسو ته تېر خاین او فاسد رژیمونه ښه ښکاره کړي. که یو ځل بیا د څېرو د بدلون لپاره کار کوئ، دا ستاسو لپاره مرګونې تېروتنه ده؛ په داسې حال کې چې د بشر په لاس جوړ شوي فاسد نظام له منځه وړلو او د نبوت په تګلاره د خلافت بیا تاسیس ته سخته اړتیا ده. هغه لوري ته کار وکړئ چې د الله سبحانه وتعالی حاکمیت یې پر موږ نازل کړی، څو د الله سبحانه وتعالی د رضایت او په ژوند کې مو د پرمختګ لامل وګرځي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الآخِرَةَ وَلاَ تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ وَلاَ تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الأَرْضِ إِنَّ اللَّهَ لاَ يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ﴾**[قصص: ۷۷]

***ژباړه:*** *په هغه څه سره چې الله سبحانه وتعالی تا ته درکړي، د آخرت کور جوړ کړه او له دنیا څخه هم خپله برخه مه هېروه. نېکي وکړه، لکه څرنګه چې الله سبحانه وتعالی له تاسره نېکي کړې. په ځمکه کې د فساد خپرولو هڅه مه کوه، ځکه الله سبحانه وتعالی فساد کوونکي نه خوښوي.*

**د حزب التحریر-ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: ۲۲/۱۴۴۰**

**۱۴۴۰هـ.ق، د جمادي الاولی ۸مه**

**۲۰۱۹م، د جنوری ۱۴مه**